محمد عمر کابل ۱۰/۰۸/۲۰۱۲

# لويي رسنۍ او وړې خبرې!

دانګريزي ژبي يوه خبره ده او ښه پخه خبره ده، او پخه ځکه ده چې سمه هم ده او پر خپل ځای نوي هم ده. يعني دا خبره تر دې وړندې په بله ژبه کې نه ده شوې، او چې کله په انګرېزي کې وشوه نو هيچا دا ونه ويل چې يادا خبره کړه ده يا يې لکۍ کړه ده

خبره څه ده؟

خبره داده چې وايي: «واړه فکرونه پر خلکو غږېږي، منځني فکرونه پر پېښنو خبري کوي، اولوی فکرونه آيډيا ګاني راسپړي»

هم داسي ده کنه؟ دخپلو کليو او باندو ښدو او کوڅو ته ورشئ، پيتاوي ته ناست ځوانان به يوبل سپکوي او پر يوه بل به خبري کوي، تر دوی مشران او په عمر پاخه به پېښي يادوي، پر خبرونو به بحث کوي او يابه د کلي او ولس پر ناندريو خولې تودوي، خو ډېر لږ، په کلي کې به چېري يو نيم سړی يا سړي سر داسي هم وي (او خدای دي وکړي چې وي) چې هغه به له دې دواړو پورته پر ايډيا ګانو فکر کوي او شخړو ته به دهواري لارپيدا کوي. دا ځکه خو داسي کسان جنجالونو د ازمويښت له ميچنو روغ وزي او ځان له ځانګړی ځای لري.

ټول يې درانه ګڼي او درانه يې يادوي، خو که هم دا خبره د فرد او وګړي ترکچي پورته بوزو او دافرادو تر ډلو، ټولګو يا له افرادو د جوړو شويو ادارو پوري د قضاوت د دې نرخونو لمنې ور وغځوونو بيا ګورو چې کومي اداري نه په خپل منځ او پرديو جنجالونو اخته دي، او نه له خپله ځانه د باندي د افرادو سره د زاتي دښمنيو او اختلافاتو کچي ته راټيټي شوي، هم هغه اداري درنې ګڼل کيږي او بريالۍ ثابتي شوي دي

بری يوازې په ډېر کار نه تر لاسه کيږي، بلکه بری سم کار غواړي، او کارونه هغه وخت سمېږي کله چې د کارونو کوونکي کارونه د ارزښتونو او ټاکلو اصلو په رڼا کې تر سره کړي. د ټاکلو اصولو په رڼا کې شوي کارونه تر زاتي خوښو، ناخوښو او ناندريو لوړ وي. دا ډول کارو د يوه لر ليد په څرک کې تر سره کيږي او دا ډول لر ليد د زاتي دښمنيو په تنګو سترګو مسايلو او افرادو ته نه ګوريبلکه هر څه ته د خپلو پخو اصولو په سترګو کتل غواړياو ديوه پاخه اصولي چلند په رڼا کې څېړي او تر څېړلو وروسته يا يوڅه خپروي يا يې غندي، پردي يې ګڼي او ځان تر ې ليري  باسي. اداري دې ډول چلند ته د کاريزي پاليسۍ نوم ورکوي او هره اداره يوه کاريزه پاليسي او کاري چلند لري، خو ښې کاريزي پاليسۍ او غوره کاريزه چلند د ادارو د مشرانو پرزاتي خوښيو ناخوښيو نه وي ولاړ بلکه تر هغې ډېر لوړوياو اداري لرليد پر بنستونو درېږي، او د داسي ودرېدلو ښايست په دې کې دی چې دا ډول دريځ نه د فردي فتنو او دښمنيو خيری لري او نه فردي خوښو او محبتونو ته ورکشېږي بلکه د دوی لرليد دهغه تول نوم دی چې شاوخوا چاپير چل او وخت يا په بله ژبه زمان او مکان او د زمان او مکان د چوکاټ د ننه پېښي او افراد هر څه پرې ارزول کيږي او دا ارزونې نه په لچرۍ ولاړي وي او نه پر بې انصافۍ بلکه پرعدالت ولاړي ارزونې وي، او ټولي هغه اداري چې خپلي پاليسۍ او کاريزه چلند د خپلو اداري مشرانو د زاتي خوښيو، ناخوښيو دوستيو او دښمنيو پر بنسټونو ودروي هغوی دولسي اعتبار د زوال په مرګونې ناجوړي اخته کيږي. له بده مرغه زه نن سبا په ځينو لويو رسنيو کې ګورم چې په لوی لاس ځانونه په دې مرګونې ناروغي اخته کول غواړي. د افرادوسره د زاتي فتنو پيټي په اداري اوږو پورته کوي او له نيکه مرغه اداري اوږې چېري چې د  اداري مسئوليتونو ډېری درانه پيټي پورته کولای شي هلته همدا اداري او د دوی اوږې د دوی د مشرانو د زاتي دښمنيو د ډېر واړه بار له زوره هم ماتيږي. او که د زړه خبره درته وکړم نو د ادارو ته به زما وړانديز دا وي چې مه مو د اداري ځواک ځواکمني اوږې د پيټو په پورته کولو ماتوئ، مه مو هغه ولسي اعتبار ته مرګونی تاوان ور اړوئ چې په پېړو پېړو مو پرې خواري کړې ده . نو ښه


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

به داوي چې که تر دې وروسته هره خبره د خپلې اداري پالیسۍ په رڼاکې وڅېړئ او هري خبري ته غبرګون هم د خپلو اداري پالیسیو د ډېرو روښانو او واضحو ټکو په رڼا کې جوړ کړئ.

هغه اداري چې نن سبایې د چلولو پېره ستاسو پر اوږو پرته ده، یوازې ستاسو کار تر دې ځایه نه دي رسولي بلکه تر دې ځایه د دې ادارو په رسولو کې ډېرو نورو خلکو هم زړونه خوږلي او تر تاسو یې ډېر خوږلي دي

په دې کې شک نشته چې اوس به تاسو هم په دې ادارو زړونه خوږئ خو ستاسو د نااتکله چلند نه داسي برېښي چې خدای دي نه کوي چې تاسو د دې ادارو د حیثیت په جوړولو نه بلکه د دې ادارو دحیثیت په ویجاړولو اخته یاست. یاد ساتئ چې ستاسو او رېدونکي، لوستونکي او لیدونکي ستاسو هر قدم څاري، او ستاسو هره خبره اوري، او د دې لپاره یې هم اوري چې تاسو ستاسو د خبرو په رڼا کې واوري. د ولس دلویي درشلې په وړاندې خو دم او قدم دواړه په حساب دي، خو موږ څوریږو په دې چې د همداسيادارو په لړۍ کې چې نا اټکله ګامونه پورته کوي اوس ځیني نړۍ والي رسنیزي اداري هم ورشاملي شوي دي، چې لوی لوی نومونه یې دي، او د ډېر لوړ مسلکي چلند دعوې کوي او خدای شته سترګي هم ورته وراوړي

که دا اداري د زاتي دښمنیو ټیټي کچي ته نوري هم ورټیټي شوې نو بیا به یې له دې ټیټي کچي څوک پورته کوي. دا اداري خو دنورو رسنیو لپاره روښانه بیلګي او مثالونه دي. او دا روښانه بیلګي د زاتي فتنو او خوښو ناخوښو په ناولو ختو لړل به هم دومره لویه ملامتي وي څومره لوی ښه چې دې ادارو دلوړ مسلکي چلند په خپلولو کړي دي.

زه پرته له دې چې د داسي کومي لویي نړۍ والي رسنۍ نوم واخلم دهم دې رسنۍ دیوه پټ من مینه وال په توګه له دوی نه غواړم چې د دې لویو رسنیزو ادارو دبندو خونو او لوړو دیوالونو د ننه د شخصي او زاتي دښمنیو له ککړو او خیرنو بوتلونو نه هغه ( دیب)مه راباسئ چې بیا به یې نه بېرته په بوتلونو کې بندولای شئ او نه به مو دا دیب دبندو دفترونو دلویو دیوالونو دننه ایسار شي.

یاد ساتئ چې ولسي اعتبار په پیړیو جوړیږي خو په یوه شرنګ کې ماتېدلای شي، او د دې اعتبار له داسي بدرنګې ماتې مو دنورو ټولو ښو رسنیو سره لوی خدای په خپل امان کې وساته. هیله ده چې دې دعا ته به راسره یوځای ستاسو لاسونه هم پورته شوي وي، او دهغو ادارو او افرادو لاسونه هم چې ظاهراً ورسره نن سبا تاسو ترخه تربګني روانه ده، داسي تربګني چې که نوره مو اوږده کړه نو باور لرم چې تر وړو ډېر به پکښي لوی او زاړه ژوبل شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ